پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۰/۳/۷

# دودیزه ټولنه, لودیزه دموکراسی او دښځو حقونه

ددی کلي طبيبان واړه ناکس دی         د دارو په طمع مه اوسه بیماره

یوه ورځ می یوه دوست چی په انتریت کی تل زما لیکنې لولی , رانه وپوښتل چی ته په هر مناسبت ترڅپله وسه پوری یونم شۍ لیکې , خوهرکال چی دښځو ورځ راتلونکې وی , زه دانترنیت پاڼی لټوم خو پدی هکله ستا له قلمه هم راڅڅیدلې کرښې ولولم . مګر هیڅکله می پدی اړوند ستا نه یوه کرښه لا هم تر سترګو شوی نده . کولای شی په علت می پوه کړی؟ ددی دپاره چی له هغه نه می ځان خلاص کړی وی , ورته می وویل لکه څنګه چی پخپله دی یاده کړه پدی اړه ډیر کسان پریمانه لیکنی کوی او دی ته یی پام ندی چی ښځه خو دګلو بوټۍ دی , که چیری ګلدانۍ ته له اړتیانه زیاتی اوبه واچولې شی , ریښی یی ورستې اوځانګې یی وچیږی اوهمدارنګه یی که په ګلپاڼو ډیر لاس ووهل شی , هغه مړاوی کیږی . برسیره پردی مې دالنډۍ هم چی دځوانۍ له وخت نه رایاد ده , ورته زمزمه کړه :

که داغزیو نه ډاریږې
دګل په څانګو باندی مه وهه لاسونه

دکابل پولې تخنیک انستیتوت کی زما یو ګران او دتکړه استعداد لرونکی شاګرد انجینر محمد ابراهیم نعیمی چی دامهال په ډنمارک میشت دی , دلطیف جنس په تړاو یی تل دخیالونو پراسمان د رومانتیزم سپوږمۍ ځلیږی . دی وړاندی لدی نه چی د ځوانۍ سره د تل دپاره مخه ښه وکړی , غواړی په افغانستان کی دښځو دحالت پر ځرنګوالې باندی یوکتاب ولیکی او پدی توګه دنوموړې ( لطافت ) چی تل یی ورته دافکارو مزی د وریښمینو په نازکو تارونو تړلې وی، حق پرځای او په اړوند یی خپل پور اداکړی . پدی لړ کی ده ډیر زیار ګاللی راز راز سرچینی یی پرله اړولې او د ډول ډول کسانو اندونه یی ترلاسه کړیدی . دنورو کسانوپه ډله کې د یوه علمی کارکونکې په توګه ده دنړیوال جنګی ائتلاف په شتون کی دافغانی ښځو دستونزو دحل په چارو کی زما نظر هم وغوښت څو دکتاب ځیرنیزه برخه پری غوښینه کړی . داچی ده تل د اړتیا پرمهال زما په خدمت کی ځان ستړۍ کړیدی نوماهم بیله دی نه چی خپل ناتوان قلم ته رنګ واچوم , بله چاره می ونه لیدل .

وایی خبره له خبری پیداکیږی . پدی اړه می یوه بله خبره رایاده شوه . ځوانی دژوند ترټولو په زړه پوری برخه ده. ځلمۍ وم او دمسکو پوهنتون کی د کان پیژندنې په زده کړو لګیاوم . دتعلیمی پروګرام سره سم به هر اوړۍ دتوری بحیری پر غاړه دکریمیا په نیمه جزیره کی ( اوس داوکراین په جمهوریت پوری تړاو لری ) پرتو دنګو غرونو ته د درو میاشتو دپاره دپراکتیک پخاطر تلو . پاک خدای د طبعت دښکلا ډیره برخه و دغی سیمی ته بخښلې چي دډیرو لیکوالانو او شاعرانو د خوندورو اثارو دالهام سرچینه ګرځیدلې ده . له بده مرغه د وصال قدر په هجران کی څرګندیږی . داسی ښکاری چی په ځوانۍ کی لا دښکلا نه دخوند اخیستلو وړتیا کمزورې او دغه استعداد پوره وده نه کوی . د کوچیانو پشان به مو په خیموکی ژوند کاوه . دشپی لخوا به مو اور بل کړ , پری راټول به شوو او دټوکو ټکالو بازار به تود وو . د هم صنفیانو ډیره برخه مو نجونې وی . ښکلې طبعت به هری یوی ته تر بلې زیاته رومانتیکه ښکلا ور بخښله . دوی به تل له مانه په افغانستان کی دنجونو او ښځو په هکله راز راز پوښتنی کولې . ما به هم په ډیر ویاړ هغوی ته په میوند کی دملالۍ دحماسو لنډۍ په ترنم کی ویلې او بیابه می ورته په روسی ژبه ژباړلې . دغازی ادی دمیړانې قصی به می ورته کولې او . . یو ماښام دبحیری پرغاړه د اور د پاته انګار پرشاوخوا را ټول وو . یوی هم صنفۍ نجلۍ می چی تر ټولو واکمن خدای دښکلا غرونه ور په شاکړی وه , زما تر قصو وروسته رانه وپوښتل : ایا ستاسی ښځی له جنګ نه پرته د مینې او محبت سره هم بلدی دی ؟ ایا ددغی کلیمې په مانا باندی پوهیږی او کولای شی دیو چا سره مینه وکړی ؟ ما یی په ځواب کی د موشګاف شاعر حمید ماشوخیل لاندی شعر ورته وژباړه :

و اسمان ته به دشعر زینې کښیږدی
که حمید دغم له سره زنګون وکیښ

له لوړی اړینې سریزی نه وروسته به راشو اصلی خبری ته چی هغه په افغانستان کی دښځو د مسئلې په هکله دامریکایی انډیوالانو اوسرکاری هلو ځلو ځرنګوالۍ او دپایلو دمثبتو یا منفی اړخونو د ترلاسه کیدو جاج اخیستنه ده .

دشوروی دولت دیوه بنسټ ایښودونکی سیاست پوه له خولې می لوستی وه : که هرڅومره په یوی ټولنې کی دپوره مساوات او برابرۍ دشتون په هکله ډیری ناری ووهل شی، داپه هم هغه پیمانه ښئی چی په ټولنی کی مساوات او برابرې نشته . که چیری انجینر صاحب نعیمی دخپل کتاب دپیل نه وړاندی زماسره سلا کړی وای , مابه ده ته



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دخیړنی په موخه داسی یوه موضوع په ګوته کړی وای چی حلول یی پخپله په افغانستان کی دښځو اوسنۍ ستونزمن حالت ته دپای ټکی ږدی.

اوس چی ده پرکتاب باندی ډیر کار کړی او ستړیاوې یی ګاللې دی , زه به پخپل ټول وس او بشپړه مینه دی وهڅوم چی نوموړې کتاب دخوندوری منځپانګی سره په پوره بریالیتوب پای ته ورسوی ترڅو یی هم لوستونکی له لوستلو نه خوند واخلې او هم دلطافت په وړاندی دده لطیف پور ادا شوی وی . لدی نه پرته چی دی راباندی ګران دی, هڅاندی هلې ځلې یی دقدر وړبولم .

ترهغه ځایه چی ما دښځو د مسئلې په اړوند د اسلامی پوهانو اندونه لوستې دی , تر لویه بریده دا ویلای شم چی دوی داموضوع په هر اړخیز ډول څیړلې او ډیرو باریکو ټکیو ته یی پام اړولې دی او دخیړنو له ژورتیا نه یی سترګی پټول ګران کاردی .

د اتیایمو کلنو پیل وو چی دپروګرس چاپخونې ( مطبعی ) رانه د حق الزحمی په بدل کی دیوه کتاب دژباړنې غوښتنه وکړه څو په ایران او افغانستان کی دلوستونکو دپاره په فارسی یا دری ژبه و ژباړل شی . کتاب دښځو د مسئلې په هکله د یوشمیر کلاسیکو فلیسوفانو دنظریاتو یو غونډ وو . پدغه کتاب کی دښځو دمسئلې په اړوند ددوی نظریات له مذهبی اړخه نه بلکه د ټولنې داجتماعی - اقتصادی ځانګړتیاوو له مخی راټول شوی وه.

که چیری دنوموړی مسئلې په اړه ددغو دوو ډلو پوهانو اندونه سره پرتله کړم , بیله شکه د دوی دلید لوری زاویی یو له بله څرګند توپیر لری . داځکه چی له یوی خوا د دوی د نړی لید اړخونه بیل دی او دبلې خوا د ټولنې ودی په بیلو پړاوونو کی د دوی څیړنې او پایلې اخیستنې ترسره شوی دی . زه پدی باور یم دهغو ستونزو ریښې چی داګړی افغانی ښځی ورسره لاس او ګریوان دی , تر ډیره حده د افغانی دود پالې ټولنې د کړو وړو سره تړاو لری نه د اسلامی مذهبی عقیدی سره چی لودیز یی په هکله فکر کوی . زه همدغه خبره اساسی ټکی بولم چی باید په اړه یی پوره غور وشی او دټولنې د اقتصادی - اجتماعی پرمختیا په پراخ چوکاټ کی یی اړخونه وڅیړل شی نه دسیاسی سوداګری په تنګه کړی کی .

په افغانستان کی دښځود نهضت بهیر نسبتاً اوږد تاریخ لری چی په زګزاګ ( مارپیچ ) ډول یی لاره وهلې , پرمخ تللې , راپرزیدلی او شا ته لویدلی دی . ددی نهضت په تاریخ کی څلور پړاوونه ماته غښتلې ښکاری چی باید په هکله یی یادونه وشی . ددی ډلې نه درو لومړی پړاوونو تر ټاکلې حده طبعی شکل درلود ځکه چی په محرکه قوی کی یی افغانی عنصر ټاکونکی رول لوباوه . په څلورم پړاو کی یی دافغانی عنصر رول پیکه او دنړوالو تر اغیزی لاندی یی د را واردی شوی لودیزی دموکراسی په تمثیلې نمایش کی دسیاسی تجارت بڼه اخیستې ده :

لومړی پړاو :

پدی پړاو کی دښځو نهضت دامانی نهضت دیوی برخی په توګه په انقلابی توګه راپیل او داچی چټکتیایی د ټولنې تر زغم لوړه و , دسخت مقاومت سره مخامخ شو . پدی اړه چټک ګامونه ددی بهانه شو ه چی انګریزان یي دافغان وطنپال دولت په مقابل دغچ اخیستلو په موخه دیوی اغیزمنې وسلې په توګه وکاروی . لومړی یی دګوډ ملا پلاس ددولت پرضد تبلیغات پیل او وروسته یی ارتجاعی څواکونه دغلو او رنګارنګ داړه ماراو په ډله کی دسقاو دځوی پرشاوخوا را ټول او افغانی وطنپال نهضت دځپلو سره یی یو ځای دښځو نهضت هم خفه او دډیرو کلونو دپاره منځنیو پیړیو ته پرشا وتمباوه .

دوهم پړاو :

دانهضت د دوهم ځل دپاره دسردار محمد داود خان ترمشرۍ لاندی دده دصدارت پرمهال راپیل شو . داځل که څه هم دانقلابی لارو منځته نه وو راغلې , خوداچی دیوی خوا نهضت دفرمان له مخی پیل شو او له بلې خوا دا دساړه جنګ مهال او داود خان دشوروی په پلوۍ سیاست خپل کړی وو , بیاهم لودیزوالواو امریکا تری ګټه پورته کړه او دپاکستان دارتجاعی کړیو په مرسته یی په مقابل کی خلګ راوپارول . پدی اړوند دمقاوت لومړۍ څپې په ۱۳۳۹ کال په کندهار کی دبلوا په شکل انفجار وکړ چی مرګ ژوبله یی رامنځته کړه . دکندهار سینما او د زرغونی انا دنجونو لیسه داور په لمبو کی وسوزیدل . پرنورو ښوونځیو هم بریدونه وشوه , زده کوونکی او ښوونکی وټکول شول . دولت ډیر ژر جدی تدابیر ونیول , بلواکوونکې یي وځپل

اونورو ولایتونو ته یی دپراخیدو مخنیوۍ وکړ . لدی نه وروسته د بلوا تراغیزی لاندی دنهضت په اړه داحتیاط نه کار واخیستل شو او چټکتیا یی پښه نیولې شوه ولې له پښو ونه لوېده او په نسبتاً ارام ډول پرمخ ولاړ .

دریم پړاو :

په ۱۳۵۷ لمریز کال دنورو ټولنیزو چټکو بدلونونو تر څنګ دښځو نهضت ته هم دانقلابی شورا په اووم لمبر فرمان سره پام واړول شو او انقلابی بڼه ورکړل شوه . دفرمان غټ ټکی دا وه : د شرعی مهر په ور کولو سره چی دهغه وخت دپیسو په حساب یوازی دری سوه افغانې کیدلې د ولور اخیستل کاملاً منع شوه، د وړو نابالغو نجونوکوزده کول او دبالغو نجونو د خپلې خوښی او رضا نه پرته میړه ته ورکول منع شوه , په واده کی دبیځایه لګښتو غوښتل منع شول او نوری اړینې ورته چاری فرمان په پام کی نیولې وی . داچی دولت دجزا قانون په ټینګه عملی کاوه , نو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

جنسی تیرې او نورو ورته جرمونوته داداری فساد په ګډون هیچا هم زړه ښه کولای نشو . دا ټول هغه څه دی چې اوسنی دولت او ورسره تړوله نړیواله ټولنه یې پخاطر بی شمیره لګښتونه کوی اوترسره کولای یې نشی . هغه وخت هم د ساړه جنګ دګټلو په موخه امریکااو لودیزوالو دنورو تبلیغاتو ترڅنګ دغه فرمان هم بهانه وټاکه او فوندامنتالیزم یې دافغان بی تجربی او شوروی پلوې حکومت په وړاندی راوپاراوه څو په پای کی یی د ۹۰ - یمو کلنو تنظیمی ناورین او وریسی دمنځنیو پیریو مابنام ته لاره پرانیستل. پدی توګه دښځو نهضت دا ځل لږ تر لږه د ۵۰ کالو دپاره پرشا وتمبول شو .

ځلورم پړاو :

دطالبانو تر ټکولو وروسته لودیزه دموکراسی دښکلې ناوی په توګه د پرتمینی بدرګی سره هیواد ته راوستل شوه. ددی ناوی د لاښه سینګار په موخه دښځو دحقونو پر شعار باندی دسیاسی تجارت پړاو پیل شو څو هم افغان حکومت اوهم امریکا دخپلو انډیوالانو سره تری ګټه پورته کړی . په افغانستان کی دشکیلو هیوادونو حکومتونه ددی دپاره چی خپلو خلګوته ور اوښتې انسانی تلفات او مالي لګښتونه توجیه کړای شی , دښځو دحقونو دپاره دهلو ځلو شعار پرسوی او دبشر دحقونو مینه والو ته په سترګو کی خاوری پاشی . دوی تر دی شعار لاندی ددی خبری څخه سترګی پټوی چی هره ورځ یی په بمباریو کی دښځو او ماشومانو په ګډون بیشمیره ملکی کسان د وینو په رود لاهو کیږی او ددوی د وزر ترسیوری لاندی جنګسالار ټوپکماران پرښځو او ماشومانو باندی جنسی تیری کوی .

دښځو حقونه دبشر دحقونو یوه نه شلیدونکې برخه ده او دبشر حقونه دنر او ښځی دواړو دپاره په پام کی نیول شویدی. پداسی یوی ټولنی کی چی هرګړی دبشر حقونه هلته په ټولیز ډول تریښو لاندی او نارینه وو ته لاهم خپل ډیر ابتدایی حقونه رسیدلي نه وی , بیا نو دښځو حقونه خامخا زیانمن کیږی . دافغانستان داوسنی وګړو له نیمي نه زیاته برخه تر ۲۵ کلونو ټیټ عمرلری . داهغه نسل دی چی په جنګ کی زیږیدلي اود باروتو تر دود لاندی لوی شویدی . داسی نسل له هرڅه نه وړاندی د بشر حق پیژندلو ته د اوږدی زده کړی اړتیا لری . ددی دپاره چی دانسانانو کړه وړه سمون ومومی , اړینه ده چی په ټولنه کی انسانی ذهنیت ته وده ورکړل شی . دا کار بیا دټولنی و اقتصادی - اجتماعی پرمختیا ته اړتیا لری . بیله شکه پدغه لار کی اوسنې پیل شوی هلی ځلی لکه دانفراسترکچر بیا رغونه , دښوونځیو او روغتونونو ابادول او تجهیزول , د اداری اوقضا بیاجوړول او نور پرځپل ځای تر ټاکلي کچی دستایلو وړ دی. دا یو انکار نه منونکی پوهنیز اصل دی چی پدی پروسه کی اجتماعی ذهنیت داقتصادی ودی تابع او ورسره یو ځای داسی وړاندی ځی چی دچټکتیا بهیر یی د اقتصادی پرمختیا تر چټکوالي سست دی. دهیواد اقتصادی بنسټونه هم د شوروی یرغلګرو او هم له هغوی نه وروسته دامریکا او لودیز په سپارښت د ( ISI ) پلاس دجوړ شوو تنظیمونو لخوا دیوه مخه وران شول او هرارخیزی رغونی ته اړتیا لری . اقتصادی وده لاهم په افغانستان کی تر اوسه پوری دهغو لګښتونو په پرتله چی ترسره کیږی ډیره ټیټه ده. داواقعیت ددی خبری څرګندوی دی چی اجتماعی ذهنیت ډیر وروسته پاته دی . که څه هم داقتصادی پرمختیا سره داجتماعی ذهنیت وده نه شلیدونکی تړاو لری , مګر اصلی خبره داده چی اقتصادی پرمختیا کیدلای شی دنړیوالي ټولنی په غوښتنه ترسره سی , خو داجتماعی ذهنیت لوړتیا بیا دچا په غوښتنه او فرمان نه ترسره کیږی بلکه داکار دوخت تابع او په محافظه کاره ډول مخته ځی . د یوه پوه له خولې می لوستي وه چی دیوه بنار جوړول دیوه انسان د ذهنیت تر بدلولو اسانه کار دی.

د امریکا او لودیز په بدن اوس هغه مار نیښ لګوی چی پخپل لستونی کی یی ساتلي او روزلی دی. دوی دافغانستان پشان هیوادونو کی قصداً داجتماعی ذهنیت د ټیټ ساتلو په موخه بیشمیره لګښتونه کول څوپه ساړه جنګ کی یي دکمونیزم په وړاندی دیوی اغیزمنې وسلې په توګه وکارولای شی . پدی کار کی څو دوی بریالیتوب پلاس راوړ او سوسیالیستی بلاک یی له پښو واچاوه , مګر ټیټ ساتل شوی اجتماعی ذهنیت اوس ورته دلستونې مارګرځیدلي او هرګړی یی یو یا بل ځای د زهرو انتظار باسی. ژرنده که دپلار ده هم په وار ده.

لکه څنګه چی لوړ وښودل شوه , دافغاني ښځو دنهضت په بهیر کی لومړنې دری پړاوونه دهمدغو لودیزوالو او امریکا دپیسو او تبلیغاتی ماشین په زور یا دخنډونو سره مخامخ او یاهم بیخی وځپل شول . دا اوس هم ددوی پر رښتینوالي باندی باور ګران دی څکه چی سیاسی تجارت تل د ډبل مورال ( دوه مخیزتوب ) سره تړلي وی . دوی پدی ښه پوهیږی چی اقتصاد دنورو ټولو اجتماعی پدیدو مور ده او دښځو حقونه یوازی د اقتصادی پرمختیا تر اغیزی لاندی په ښه او ډاډمن ډول تامین کیدلای شی , څکه نو که دوی په رښتیا سره غواړی خپلی تیروتنې سمی او دښځو دحقونو وښپړتامین ته لاره هواره کړی , یوازنی چاره یی داده چی دافغانستان داقتصادی ودی وچټکتیا ته دیوه پراخ هرارخیز مارشال پلان دعملي کولو دلاری ټینګ پام واړوی اوبس . دا ټول هغه څه دی چی یوازی زما د اندونو ستنی نه جوړوی بلکه داسی پوهنیز ارونه دی چی دټولو ټولنپوهانو خوله یی په هکله یوه ده . پای

یادوونه : لوړه لیکنه می انجنیر نعیمی ته هم لیږلي وه څو پخپل لاندی ویبلوګ کی چی په مټ یی بیلابیلي په زړه پوری موضوعګانی خپروی، هم نشر کړی: www.nahimi.dk

پایان

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په غور و لولئ